# کاکړۍ غاړي د ځپلي اولس روحاني تسکين

**(Kakari Ghari – a spiritual gratification of the oppressed people)**

شاکره خان*

عبدالرحمن کاکړ♥

**Abstract:**

Kakari Ghari is one of the genres of Pashto Ulasi Adab. There are as such no specific poets or writers of these Kakari Ghari rather every common Pashtoon from diverse Pashtoon regions contributed in making them. These Kakari Ghari have covered every aspect of Pashtoon society like wars, battles, religion, cheerful and mournful moments as well as historical incidents. In this paper the authors have highlighted an important aspect of these Ghari like spiritual satisfaction of victimized people through Kakari Ghari in Pashton society. It has been pointed out that how these victimized people satisfy their inner selves through Kakari Ghari. They go to the shrines of saints for treatment, fulfillment of desires, prays, imprecations and revenges from enemy. Such kind of Kakari Ghari have been identified in this research paper.

**KEY WORDS**: Spiritual Satisfaction, victimized people, saint, prays, imprecations.

د لسانياتو ماهرينو د هري ژبي ادب په دوو لويو برخو کښې ويشلی دی. اوله برخه ته اولسي، شفاهي يا فولکلوري ادب وائي او دويمه برخه ته تحريري يا ديواني ادب وائي. او دغه د لسانياتو ماهرين په دا خبره هم يوه خوله دي چې د هري ژبي ادب له اولسي ادب څخه پيل شوی دی. اولسي ادب يا فولکلوري ادب په ليکلي شکل کښې نۀ وي. او هر وخت د خلګو په خولو باندي جاري وي. په دې حقله باندي داور خان داود ليکي:

"فولکلوري يا اولسي ادب هغه ادب بللې شو چې د يو قام يا ملک په وګړو کښې خور شوې وي. خو جوړونکي او ويونکي ئې معلوم نۀ وي. که چيري ئې جوړونکي معلوم وي نو هغه بيا اولسي ادب نۀ شي بلل کېدی."(1)

اولسي يا فولکلوري ادب د عامو خلګو يا د عام اولس ادب وي او چې دوئ څه رنګه و غواړي پر هغه طريقه باندي دخپلو احساساتو او جذباتو اظهار په کښې کولای شي. اولس د خپلي ټولني هر اړخيزه کتنه کړې وي. نو ځکه د ټولني د هر اړخ ذکر په خپلو احساساتو او جذباتو کښې پر ژبه باندي د شعر په صورت کښې راوړي. کله چې موږ د پښتو اولسي ادب خواته راشو نو دلته هم

* M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Baluchsitan, Quetta.
♥ Lecturer, Department of Pashto, University of Baluchistan, Quetta.

موږ په دغه شان اولس د خپل ژوند او په ژوند کښې د تېرشوو حوادیثو ذکر د شعر په بڼه د اولسي ادب و لمن ته ور اچوي. د اولسي ادب ډېر اصناف دي. خو د اولسي ادب د اصنافو سندریزه برخه ئې ډېره په زړهٔ پوري او خوږه ده په دې حقله باندي دوست محمد دوست لیکي:

"اولسي ادب لمن ډېره پراخه ده. چې د اولس دودونه، عادتونه، طب، د کور جوړولو، کرهڼي،پوشاک، خصوصیات، قصې سندرې او معاملې په کښې شاملي دي. کله کله د اولسي ادب نهٔ مطلب یوازي د اولس ادب هم وي. چې (خلګو ادب) (اولسي ادب) (شفاهي ادب)(فولکلوري ادب) او خپله د فولکلور په نامه هم یادېږي."(2)

په اولسي ادب کښې ډېره ساده، سوچه او له خلوصه ډکه ژبه استعمالیږي. د اولسي ادب په اصنافو لکه ټپه، چاربېته، د مروتو کسرونه، چغې، نیمکۍ، د اتڼ نارې، کاکړۍ غاړې، ساندي او داسي نور. په دې کښې له ټپې را ایسته کاکړۍ غاړې د اولس د احساساتو او جذباتو ترجماني دي. له کاکړیو غاړو څخه به د ژوند یو داسي اړخ نهٔ وي چې د هغه یادونه به نهٔ وي په کښې شوې.

کاکړۍ غاړې د اولس د ننني احساساتو او جذباتو پر ژبه باندي د راوړلو ډېره لویه ذریعه ده. دغه احساسات که د ژوند له هره اړخه سره تړلي وي. که له رزم سره وي اوکه له بزم سره، که له مذهب سره وي او که له تاریخ سره، که له میني سره وي او که زور او جبر سره که له غم سره وي او که له خوشحالي سره. د اظهار کولو او خپل ځان او نفس ته دا راحت ورکولو ډېر خوږه او په زړه پوري ذریعه ده.

**کاکړۍ غاړې د ځپلي اولس روحاني تسکین**:

کاکړۍ غاړې د اولسي ادب یو داسي صنف دی چې له کوشني څخه ئې ونسې بیاتر سپین سري او سپین ږیري پوري ئې هر انسان د خپل ځان صنف ګڼي. په غاړو کښې د پښتو ژبې ډېر پخواني او سوچه توري خوندي دي. چې په غاړو کښې ډېر خوند پیداکوي او د زړهٔ او روح د تسکین ذریعه ګرځي.

په حبث د پښتون زموږ د زړهٔ او د روح تسکین په مختلفو ذراعیو کښې دی او په دې ذریعو چې موږ کله د خپلو د ننني احساساتو او جذباتو اظهار کوو نو زموږ زړه او روح ته تسله ملاوېږي او موږ یو قسم روحاني تنده ماته وو. روحاني تسکین محسوسه وو.

لکه څنګه چې موږ ته دامعلومه ده چې پښتانهٔ پر خپل دین او مذهب باندي مئین خلګ دي او د اسلام پر نامه باندي تر خپل سر هم تېرېږي په دې حقله باندي سیال کاکړ لیکي:

" پښتنو هر وخت د خپل دین ساتنه کړېده، د پاني پت میدان هم پر دین مینو پښتنو د کافرانو په وینو رنګ کړې ده"(3)

مذهب او دين يو رنګه د پښتنو په وينه اغيژلي دي او دوئ هر هغه ادب چې د دين او مذهب په حواله باندي او د خپلي روح تسکين کښې لټوي په کوم ادب کښې چې د دين او مذهب خبري شوي وي. پورته مو دا ذکر کړې وو چې پښتانهٔ په بېلا بېلو ذريعيو کښې روحاني تسکين لټوي چې مراد مي دا وو. دوئ د لمانځه په ذکر کښې د حضرت محمدﷺ په ذکر کښې په پېرانو، نيکانو او اوليانو په ذکر په دعاو او په ښراؤ کښې د خپل زړهٔ او روح سکون لټوي دلته په موږ اوس هغه کاکړۍ غاړي ذکرکوو چې د حضرت محمدﷺ حواله باندي وي او د ځپلي اولس د روح تسکين ګرځېدلي وي.

زمـــا د زړهٔ پـــه ميـــان کـــي ښـــوري
د ګـــران نـــوم پـــه څلـــور تـــوري(4)
يـــوار مـــه د يـــاد ســـتا پـــه امـــت کـــي
بيـــا کـــه جـــوړ شـــنکۍ قيامـــت کـــي(5)
زه درغلـــــــى يـــــــم ترتـــــــا
پـــر ســـر مـــي لاس کښـــېږده پېشـــواﷺ(6)
زياتـــــه نـــــه لـــــرم هـــــوا
کـــه پـــه ديـــد مـــوړ ســـوم د پېشـــواﷺ(7)
د پېشـــــواﷺ زيـــــارت مـــــه وکـــــۍ
بـــاړ مـــه مـــخ لـــه پـــه مـــات نـــهٔ کـــۍ(8)
پـــــه دې ارمـــــان بـــــه مـــــړه شـــــو
پېښـــــواﷺ جـــــار د تـــــر نامـــــه شـــــو(9)
پيـــــدا خـــــداى امتـــــي ســـــتاﷺ
پـــــر صـــــراط لاس راکـــــه پېښـــــواﷺ(10)
انِـــــس و جـــــنس ارض و ســـــما
پيـــــدا پـــــه روى کـــــړو مـــــولا ســـــتاﷺ(11)
د مکـــــــي بتـــــــۍ لګيـــــــږي
ملائيکـــــــي پـــــــر څرخيـــــــږي(12)
يـــــــو لنـــــــګ يـــــــوه درۍ
پـــــــر موظيفـــــــه کـــــــوم زارۍ(13)

پښتون د يوې سپېڅلي عقيدې خاوند دی او د دې سپېڅلتيا په بنياد و خپلو مقدسو هستويو ته خاص عقيده لري چې د زحمت او تنګدستي پروخت خپل بزرګان نبکان، پېران او اوليان را ننګوي.

کله چې پر دوئ باندي يو زحمت يا يوه سختره را شي نو بيا دوئ خپل نېکان او وليان رانتګوي او هغه بې وسه پښتانۀ چې د علاج وس نۀ لري او په کور کښې ئې يوه ناروغي پېښه شي نو ئې هم د خپلو بزرګانو او اوليانو تر زيارتو پوري ئې وړي خدای نخواسته، چې کله يوه نابېره پېښه وشي نو دوی وائي نېکانو مړو را ورسېږی. خپلو مړو لاس راکوئ. نانک نيکه را ورسيږې او چې کله يو د خواشينۍ خبره وي نو زموږ ښځي وائي؛ خواجې نيکه ته مه پرده مي وکړې يا ميا حسن نيکه په لڅو پښو درځم او داسي نور...

دغه ډول سيال کاکړ په خپل کتاب کښې ليکي:

" په لر او بر پښتونخوا کښې دا حقيقت و هر چا ته څرګند دی چې پښتانۀ د تنګسې، زحمت او ناجوړۍ په صورت کښې نېکان مړونه، د خدای وليان، وزرګان او سپېڅلي انسانان نتګوي. هم دغه روحاني شخصيات، منلي انسانان، د خدای ګران دوستان، د پښتنو ښځو او نرګاړو د کاکړۍ غاړو په پسته ژبه ستائلي دي لکه په دې غاړو کښې چې د خپل وخت لوی شخصيت،منلی عارف او د خدای نازولی انسان ميا عبدالحکيم په کښې ستائل سوی دی:

نتګوو يې په يقين
د تل په ميان کښې دي برېښمين(14)

پښتني مينه هم ډېره حياناکه وي کله چې د دوو مينو تر منځ بېلتون راشي نو هم او که يو د بل نۀ شي نو هم دوئ نېکان د وزرګان او وليان نتګوي اوس به دلته هغه کاکړۍ غاړي په ګوته کړو چې وزرګانو، وليانو او پيرانو ذکر د زړونه او روح د تسکين ذريعه په کښې ګرځېدلي وي:

زما اخلاص د ګران لباس
راکی نېکانو مړو لاس(15)
وس ورځه نېکان د ملسه
سپوږمۍ پرېوته تياره سوه(16)

ستا بېلتون تر مرګي ګران
له ما دې پورته کي نېکان(17)
د سپوږمۍ رڼا پر ګران
ما له هديرو وکښل نېکان(18)
نۀ قبليږي زما سوالونه
ډېر مه وکړل زيارتونه(19)
د ګران خوږکي ځينې پورته
د خواجي خوړده ور وړمه کورته(20)

د ګران خوږ کړې زما پر صورت
نېکان دي راولي هغه ساعت(21)
ما د مړه کې لوی نېکان
د سپي روپۍ دسي تاوان(22)
نۀ کوم کار د دنیا
ځم به زیارت له د نانا(23)
د نانک زیارت له ځم
کې مدت راکئ ژړو وړم(24)
یات ئې کړ پر زنده پیر
پیر زین الدین راځي ماپښین(25)

دعاګاني هم د زړۀ د تسلي یوه غټه ذریعه ده.هر کله چې موږ له یوې ستونځې سره یا خدای نخواسته له یوه غمه سرمخامخ سو نو بیا له الله څخه دعا کوو، چې الله تعالی مي دي له دې مشکل څخه په خیر وباسي. څه مراد مې په زړۀ کښې وي هغه دي الله تر سره کړي. یا د الله د صبر توفیق راکړي، کاکړۍ غاړو دعاګانو یادونه داسي کړې ده:

خواست کوم کې قبلوې
مالک د ګردي دنیا ئې (26)

ګادۍ ولاړه پر چورانو
فضل وکې پر ځوانانو(27)
سوال کوم زاري لیا نوره
خدای ما مه کې بې وروره(28)
ستا د سرخواست به کوم
که لوی رب ته درېدم(29)
موره دعا راته کوه
چې په تن روغ راسم له غره(30)

پښتانۀ ډېر په زړۀ سپا او برداشت کونکي دي او پر خپل رب باندي یقین لري او د خپل رب پر کړو باندي همیشه صابر وي. خو چې کله د یو بنده له لاسه پیښه ور وسي او تر وس ئې اووځي نو بیا د خپل زړۀ او د روح د تسلي دپاره د ښېراؤ او بد دعاوو لمن ټینګه کړي. په دې حقله سید خیر محمد عارف لیکي:

"پښتو کي يو متل دی چي د خوار غه يا ژړا وي يا ښيرا. په فولکلوري شاعري کي د تخيل په ازاده او بې قيده نړۍ کي چي چرته هر څه د ائينې غوندي بې رويه اوبې ريا وي هلته د افق په لمن کي د اهونو د تورو لوګيانو د محوه کيدو سره د زړۀ د چيغو ازانګې هم د ښراګانو په بڼه کي خورې ورې وي."(31)

په دې حواله دا کاکړۍ غاړي زموږ د زړونو او دماغو د سکون ذريعه دي:

ځـــــان د وخـــــورم تـــــا د نـــــه خـــــورم
زۀ بـــــه تـــــل وينـــــي د زړۀ خـــــورم(32)

پـــــه تـــــور ســـــر پـــــه لڅـــــي پښـــــې
ښـــــرا کـــــوم کـــــه قبلېـــــدې(33)

تـــــر مـــــا تـــــر ســـــو کورتـــــه ځـــــي
د مـــــور د هـــــم نـــــۀ ســـــي روزي(34)

تـــــر مـــــا تـــــر ســـــوې بـــــې پـــــروا
راســـــې رنځـــــور لـــــه دغـــــې خـــــوا(35)

کونـــــډه ســـــې پـــــه تـــــور پيکـــــي
کـــــه بـــــه نانـــــک ســـــنتيا وي(36)

څـــــي زمـــــا نـــــۀ ســـــو تـــــه پخـــــه ســـــې
د نـــــازک پـــــه زړۀ مـــــړه ســـــې(37)

تـــــا خنـــــدل زمـــــا پـــــر مـــــور
پـــــه زړۀ مـــــړه ســـــې د خپـــــل ورور(38)

## حوالې


1. داود ، داور خان، خوشحال او فولکلور ، ډائریکټر پښتو اکېډمي پېښور، فروري ۲۰۰۶، مخ ۴۱
2. دوست، دوست محمد ، د پښتو اولسي ادبي لاري، پښتو ټولنه ۱۲۵۶هجري ش، مخ ۱
3. کاکړ، سیال، غاړي، اسلامیه پریس کوئټه ، ۱۹۶۹، مخ ۶۷
4. ښځینه ناسته، مرغه زکریازی پښین، ۱۶ جولائي، ۲۰۱۷
5. ښځینه ناسته، مرغه زکریازی پښین، نېټه ۱۶ جولائي، ۲۰۱۸
6. عارف، خیر محمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي، مارچ ۱۹۹۵، مخ ۶۷
7. کاکړ، سیال، غاړي، اسلامیه پریس کوئټه ،۱۹۶۹، مخ ۶۸
8. همدغه
9. حمیدالله ، صاحبزاده، کاکړی لنډی، پېښور ۱۹۶۷، مخ ۹۳
10. کاکړ، سیال، غاړي، اسلامیه پریس کوئټه ، ۱۹۶۹، مخ ۶۸
11. همدغه، مخ ۶۹
12. کاکړه، شفا، سره مرکه، نېټه ۲۰ اګست ۲۰۱۷
13. همدغه
14. کاکړ، سیال، فولکلوري انځور، یونائیټډ پرنټرزکوئټه ۲۰۱۱، مخ۴۳. ۴۴
15. عارف، خیر محمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي، مارچ ۱۹۹۵، مخ ۲۱
16. کاکړه، شفا، سره مرکه، نېټه ۲۰ اګست ۲۰۱۷
17. همدغه
18. ژړک، محمد صادق، کاکړې غاړي، پښتو ادبي غورځنګ، مخ ۲۷۶
19. همدغه، مخه ۴۷۶
20. ښځینه ناسته، مرغه زکریازی پښین، ۱۶ جولائي، ۲۰۱۷
21. همدغه
22. عارف، خیر محمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي، مارچ ۱۹۹۵، مخ ۲۱
23. همدغه، مخ ۱۹
24. همدغه، مخ ۲۰
25. کاکړ، سیال، غاړي، اسلامیه پریس کوئټه ، ۱۹۶۹، مخ ۱۰۵
26. کاکړه، شفا، سره مرکه، نېټه ۲۰ اګست ۲۰۱۷
27. همدغه

28. همدغه
29. عارف، خیر محمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي، مارچ ۱۹۹۵، مخ ۲۴
30. ښځینه ناسته، مرغه زکریازی پښین، ۱۶ جولائي، ۲۰۱۷
31. عارف، خیر محمد ، د غاړو ادبي څېړنه، پښتو ادبي ملګري لورالائي، مارچ ۱۹۹۵، مخ ۲۵
32. همدغه
33. همدغه
34. همدغه
35. همدغه، مخ ۲۶
36. ښځینه ناسته، کلي سرکڅه، ضلع پښین، ۳فروري ۲۰۱۸
37. همدغه
38. همدغه